## افغانستان (دوهم کتار)

د افغانستان دولت د قاچاق د له منځه وړلو لپاره حداقل معیارونه په بشپړه توګه ندي پوره کړي، خو دې لور ته د پام وړ هڅې کوي. د تیرو راپورونو د مهال په پرتله، دولت ډیرې هڅې ترسره کړې دي، ځکه نو افغانستان ځای دوهم کتار ته لوړ کړای شوی دی. د ۲۰۱۷ کال په جنوری کې د انساني قاچاق په اړه د یوه نوي قانون په نافذولو سره دولت خپلې مخ په زیاتیدونکې هڅې ځرګندې کړې، دغه قانون غواړي چې د قاچاق او ترافیک تلفیق کم کړي او بچه بازي جرم وګرځوي، هغه دود چې نارینه د ټولنیزو او جنسي سرګرمۍ په خاطر له هلکانو ګټه اخلي .دولت په بچه بازی کې د ښکیلو چارواکو په ګډون، قاچاقچیان تر تحقیق، عدالي پلټنې لاندې راوستي او محکومه کړي یې دي .د یوه نړیوال سازمان په مالي او انساني مرستو، دولت په کابل کې د قاچاق د قربانیانو لپاره یو موقتي پناه ځای بیاپرانیست. دولت دغه راز د ماشومانو د ساتنې ۱۵ مراکز پرانیستل چې په ۲۰۱۶ کال کې یې د امنیتي ځواکونو په لیکو کې د ۳۰۰ ماشومانو د استخدام مخه ونیوله. خو په یو لړ نورو کلیدي برخو کې دولت د حداقل معیارونو په ترلاسه کولو کې پاتې راغی .د چارواکو ښکیلتیا د اندیښنې وړ یوه ستونزه پاتې شوه په ځانګړې ډول د افغان امنیتي ځواکونو په لیکو کې د ماشومانو د استخدام او جنسي ګټې اخیستنې په تړاو. له قربانیانو نه د ملاتړ هڅې ناکافي پاتې شوې؛ له یوه دولتي سرپناه پرته د قاچاق د قربانیانو لپاره ټول ځایونه د دې راپور په مهال تړلي وه .دولت د قربانیانو د هویت د پیژندنې او د بیارغاونې خدماتو ته د هغو د استولو لپاره معیاري طرزالعمل نه جوړ او پلي نکړ، چې دغه کار په ځینو مواردو کې د دولت لخوا د مجرم په توګه د قاچاق د قربانیانو په نیولو تمام شول.

### افغانستان ته سپارښتنې

د افغانستان په امنیتي ځواکونو کې دې د ماشومانو استخدام او استعمال ودرول شي او د بې وسلې شوو ماشومانو د بیا ادغام لپاره دې اړین ملاتړ او خوندیتوب برابر شي؛ د ۲۰۱۷ کال د قاچاقو قانون دې د تورنو قاچاقچیانو د تعقیب او پلټنې لپاره وکارول شي، البته د قانون د انفاذ د هغو مامورینو او پوځي چارواکو په ګډون چې پرې د قاچاق شک کیږي؛ او تورن کسان باید په مناسبه توګه محکوم شي او مجرمینو ته د اصولو سره سم قانوني جزا ورکړل شي؛ د هغو قربانیانو مجرم ګڼل دې ودرول شي چې په مستقیم ډول پخپله د قاچاق کیږدو له کبله، له قانون یې سرغړونه کړې وي؛ او د اخلاقي جرایمو په تور دې خلک نه نیول کیږي او د قاچاق ماشوم قربانیان باید د اصلاح او تربیې مرکزونو (دارالتادیبونو) ته وانستول شي؛ د قربانیانو د هویت پیژندنې او د بیارغاونې خدماتو ته د هغو د لیږلو لپاره دې معیاري طرزالعمل رامنځته شي او پدې هکله دې چارواکو ته روزنه ورکړل شي؛ د کورنیو چارو وزارت د انساني قاچاق په خلاف د ادارې ظرفیت دې پیاوړی شي او په هرې سیمې کې دې د دې ادارې د کارکوونکو شمیر زیات شي او ډاډ دې ترلاسه شي چې دوې د قاچاق او ترافیک تر منځ په توپیر پوهیږي؛ د انسانانو د اختطاف او قاچاق د عالي کمیسیون ظرفیت ته دې نوره هم وده ورکړل شي تر څو د قاچاق په ضد د حکومت د هڅو همغږي او راپور ورکړي، او د قاچاقو خلاف د ملي تګلارې د پلي کیدلو څارنه وکړي؛ کلیوالي سیمو ته د امنیتي لاس رسي په امکان سره دې، په ملي، ولایتي او سیمه ایزه کچه چارواکو ته د انساني قاچاق د تعریف، پیژندنې، ساتنې او د قانون د انفاذ د تګلارو په اړه روزنه ورکړل شي؛ د قاچاق په خلاف د شمیرو او معلومات د راټولو، ارزولو او کره راپور ورکولو د هڅو لاسمون؛ د قربانیانو د اوږدمهاله بیارغاونې پروګرامونو ته د سرچینو برابرول؛ د بچه بازی او په پور کې د ماشومانو

د ورکړې د جرمي خصوصيت په اړه چارواکو او عامو خلکو ته روزنه او معلومات ورکول؛ او په فعاله توګه د کورنيو چارو او ملي دفاع وزارتونو ته د ماشومانو د استخدام د مخنيوي قانون او د قانون د مندرجاتو د پلي کيدلو او د جرمي پلټنو په اړه معلومات ورکول .

**عدلي تعقيب**

دولت د قانون د انفاذ لپاره خپلې هڅې ډيرې کړې .د ۲۰۱۷ کال په جنورۍ کې دولت د انساني ترافيک او د کډوالو د قاچاق ضد قانون نافذه کړ چې د هر ډول انساني قاچاق مخ نيوی کوي .دغه قانون د ګټې اخيستنې په مقصد د هر ډول ګواښ، زور او نورې جبري لارې او يا خطاايستل جرم ګڼي .قانون کې دغه راز داسې مندرجات شته چې آن د ملګرو ملتونو د ټي آې پي ۲۰۰۰ پروتوکول کې نشته، لکه طبي تجربې او يا "نورو غيرقانوني چارو "ته د خلکو مجبورول، او وسله والې ښتې او بچه بازي، هغه دود چې نارينه د ټولنيز او جنسي ساتيرۍ لپاره له هلکانو ګټه پورته کوي –دغه ټول د لمړي ځل لپاره جرم ګڼل شوي . قانون کې حداکثر مجازات اته کاله بند تجويز شوی؛ شديد فکتورونه د حداکثر مجازاتو حد له ۱۰ نه تر ۱۵ کالو بند او که چيرې د وسله والو ښتو د ګټې اخيستنې په لړ کې يو قرباني مړ شي، د اعدام سزا تجويز شوې ده. دغه مجازات په کافي اندازه شديد دي او د سختو جرايمو له مويداتو سره په کچه کې دي .دولت د انساني قاچاق او اختطاف په ضد د ۲۰۰۸ کال قانون، د جزا د قانون ۵۱۶ ماده او د ښځو په وړاندې د زورزياتي د له منځه وړولو قانون (۲۰۰۹ کال) د انساني قاچاقچيانو د تعقيب او محکوميت لپاره د ۲۰۱۷ کال د قانون تر انفاذه پورې وکاروه .مجازات په کافي اندازه شديد و او د نورو جدي جرايمو لکه جنسي تيري په حد کې و .

د راپور په موده کې دولت د قاچاق د ۱۰۳ دوسيو د پلټنې او د ۶۳ د عدلي تعقيب راپور ورکړ، چې په تيرې دورې کې ۱۰۸ پلټنې او د ۵۶ عدلي تعقيب دوسيې وې .دولت دغه راز راپور ورکړ چې د راپور په موده کې لمړنيو محکمو ۳۳ قاچاقچيان محکومه کړل، په تيرې دورې کې دغه شميره ۳۹ وه .په ۳۳ محکوميتونو کې د حبس سزا له دريو مياشتو نيولې تر ۱۰ کلونو پورې وه؛ ۳۰ محکوميتونه يو کلن يا ډير حبس و .درې دوسيو ته د دريو مياشتو ناکافي حبس صادر شو .د اجباري کار او په پور کې د خلکو ګمارنې په وړاندې د دولت اقدامات څرګند نه و ځکه د دغه راز دوسيو په اړه جزييات نه و په لاګه. د قانون د انفاذ او د قضا چارواکو د انساني ټرافيک په اړه لږ پوهاوی درلود .د افغانستان په پراخې کارېدونکې ژبې، درې، کې په تاريخي توګه د انساني قاچاق او ټرافيک لپاره يوه اصطلاح کارول کيږي او دغه کار ابهام او ناڅرګندتياوې لا ډيرې کړې وې.

په نوي قانون کې چارواکو هڅه کړې چې دغو دواړو اصطلاحاتو لپاره جلا تعريفونه وړاندې کړي؛ خو نړيوالو څارونکو انديښنه څرګنده کړه چې دولت ښاي ولايتي پوليسو او څارنوالانو ته د نويو اصطلاحاتو روزنه ورکړې نه وي. د کورنيو چارو وزارت د انساني قاچاق/ټرافيک د مبارزې يو مرکزي دفتر درلود چې ۱۶ کارکوونکي يې لرل او د ۳۴ ولايتونو په هر يوه کې دوه د قاچاق ضد کارکوونکي و؛ خو دغه کارکوونکي يوازې د انساني ټرافيک مسايلو ته نه و ګمارل شوي او ځينو چارواکو ويل چې پر هر ولايت دوه د انساني ټرافيک خلاف کارکوونکي کافي ندي .لوی څارنوالۍ راپور ورکړ چې د ملي امنيت د رياست کارکوونکو ته يې د انساني ټرافيک سره د مبارزې روزنه ورکړه .نړيوالو سازمانونو او غيرحکومتي سازمانونو د حکومت چارواکو ته روزنه ورکوله .

په قاچاق کې د حکومتي چارواکو ښکيلتيا يوه جدي او پراخه ستونزه وه .راپورونه و چې ځيني حکومتي

چارواکي په بچه بازی کې ښکیل دي .د ۲۰۱۶ کال په جولای کې، ولسمشر امر ورکړ چې د پولیسو د چارواکو او په لیکو کې د ماشومانو نه د جنسي ګټې اخیستنې په اړه دې پلټنې وشي او مرتکبین دې عدالت ته راوایستل شي .د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د ۲۰۱۴ راپور کې راغلي چې په بچه بازۍ کې ښکیل کسانو پولیسو، څارنوالانو او قاضیانو ته یا رشوت ورکاوه یا یې ورته واسطه کوله تر څو له قانون نه بچ شي .د ۲۰۱۶ په اکتوبر کې د افغانستان د ملي پوځ پنځه سرتیري د یوه هلک په جنسي زوروني او احتمالاً بچه بازۍ تورن شول .پنځه سره سرتیري توقیف او د ملي اردو یوې محکمې ته واستول شول چیرې چې یو سرتیری د ناقانون مرګوني ځواک په کارونې په دوو کالو حبس محکوم شو؛ بل سرتیری د جسمي تیري په جرم په یو کال حبس محکوم شو، او درې نور سرتیري د اسنادو او شواهدو د نشتون له کبله خوشي شول .د ۲۰۱۷ په فبروری کې، د یوې ولسوالۍ د پولیسو مشر او شپږ نور امنیتي کسان په دې تور ونیول شول چې د بچه بازۍ په یوه مجلس کې یې ګډون کړی و؛ د پولیسو مشر له دندې وشړل شو.

خو څارونکو راپور ورکړ چې پولیسو په دغه پیښه کې څلور قربانیان هم ونیول .په ۲۰۱۶ کې، دولت په کورنیو چارو وزارت کې د ماشومانو د سواستفادې او جنسیت او بشري حقونو د تحقیقاتو اداره پرانیسته تر څو د پولیسو او امنیتي ځواکونو له ناوړه چلند نه د ماشومانو او ښځو ساتنه وکړي .په ۲۰۱۶ کال کې ملګرو ملتونو د دې تایید وکړ چې د دولت په جنګي او غیرجنګي لیکو کې ماشومان کارول کیدل او پدې لړ کې پنځه ماشومان د افغانستان د ملي پولیسو، دوه د سیمیزو پولیسو او یو د ملي اردو لخوا استخدام شوي و .ملګرو ملتونو دغه راز په ۲۰۱۶ کال کې راپور ورکړ چې په بغلان ولایت کې د سیمیزو پاڅونکوونکو لخوا چې دولت یې ملاتړ کوي، یو ماشوم استخدام شوی و .څارونکو دغه راز راپور ورکړ چې ځینو چارواکو د رشوت د اخیستلو په بدل کې ماشومانو ته جعلي اسناد جوړول چې خپل عمر تر ۱۸ کالو ډیر وښیي .

**ساتنه**

دولت د قربانیانو د ساتنې لپاره کافي اقدامات ونکړل .دولت د قربانیانو د پیژندګلوي او مرستې په اړه هراړخیزې شمیرې راغونډې نکړې، خو د کار، ټولنیزو چارو، شهداو او معلولینو وزارت د ۲۳ قربانیانو د پیژندنې راپور ورکړ .لدې پرته، یوې غیرحکومتي ادارې د ۹۳ قربانیانو د پیژندنې او مرستې راپور ورکړ چې پکې ۵۵ هلکان او ۳۸ انجونې وې .دولت د قربانیانو د پیژندنې او حفاظتي خدماتو ته د هغو د راجع کولو په تړاو سیستماتیک طرزالعملونه جوړ نکړل، خو غیرحکومتي او نړیوالو سازمانونو وویل چې دولت، د ګڼو وزارتونو او پولیسو په ګډون، قربانیان و حفاظتي خدماتو ته راجع کړل .په ۲۰۱۶ کې، د قربانیانو لپاره د دوو پناه ځایونو چې د غیرحکومتي موسساتو لخوا پرمخ بیول کیدل، ۹۶ سلنه ګټه اخیستونکي د حکومت لخوا راجع شوي و .د کار، ټولنیزو چارو، شهداو او معیوبینو وزارت راپور ورکړ چې سرحدي پولیسو لپاره یې د اجباري کار د دوسیو د راجع کولو سیستم جوړ کړ، خو دا څرګنده نشوه چې د راپور په مهال آیا دغه سیستم په کار واچول شو که نه .پولیس قربانیانو ته د تحقیقاتو په مهال د ابتدایي مرستو د وړاندې کولو (د اوبو او خوړو په ګډون) لپاره مالي امکانات او رسمي لاربښود نه درلود. په ځینو پیښو کې پولیسو له خپل جیب نه د قربانیانو لپاره د مرستو انتظام وکړ. د نړیوالو سازمانونو په مالي او پرسونلي مرستو د کار، ټولنیزو چارو، شهداو او معلولینو وزارت په کابل کې د قاچاق د قربانیانو د موقتي ساتنې یو مرکز چې د څو کلونو لپاره تړلی و، بیاپرانیست .

د کار، ټولنیزو چارو، شهداو او معیوبینو وزارت د قربانیانو لپاره د نوم ثبتولو، راجع کولو او ټولنیز

خدمات وړاندې کړل او له نورو هیوادونو څخه یې افغانستان ته د قربانیانو د اخیستلو چارې ترسره کړې .
غیرحکومتي سازمانونو په ۲۱ ولایتونو کې د ښځو د ساتنې ۲۹ مرکزونه پرمخ بیول چې د هغو ښځو لپاره چې د کورني تاوتریخوالي قربانیانې وې حقوقي، حفاظتي او ټولنیز خدمات برابر کړي –دغه خدمات د قاچاقو د قربانیانو لپاره هم وړاندې کیدل .د ښځو د چارو وزارت دغه مرکزونه څارل تر څو ډاډ ترلاسه کړي چې چارې یې له قانون او مقرراتو سره سمې ترسره شي او وزارت دغه راز خپل تفتیشي معلومات د ولایتي همغږۍ له کمیټو سره شریکولې تر څو د ستونزو حل پرې وشي. د کورنیو د لارښوونې مرکزونو په ۱۷ ولایتونو کې د ټولو جرایمو قربانیانو ته له استوګنې پرته، حقوقي او ټولنیز خدمات وړاندې کړل او په ۱۴ ولایتونو کې یې قربانیانو لپاره سرپناه برابره کړه .

د ماشوم د ساتنې شبکه چې د غیرحکومتي سازمانونو، مدني ټولنې او د حکومتي ادارو یوه ټولنه وه او د کار او ټولنیزو چارو وزارت یې څارنه کوله، د ماشوم قربانیانو لپاره سرپناه برابره کوله .غیرحکومتي موسساتو په کابل کې د اجباري کار او سکس د قاچاق قربانیانو لپاره سرپناوې برابرې کړې چې یوه پکې په ځانګړې توګه تر ۱۹ کالو کوچنیو هلکانو لپاره وه .په ځینې وخت به کې، حکومت قرباني شوي ماشومان په یتیم خانو کې ځای په ځای کول، که څه هم یوشمېر یتیمان په یتیمخانو کې هم د انسانانو د قاچاق ښکار شوي وو. د غټو نارینه و قربانیانو لپاره سرپناه نه وه.

چارواکو ځېنې وختونه نارینه او ښځینه قربانیانو سره یوازې له دې امله د مجرمانو په څېر سلوک کاوه چې هغوی له شرعي محرم نه پرته له کوره وتلي وو، او یا یې د اخلاقي جرایمو په سر سزا ورکوله؛ چارواکو دې ته ادامه ورکړله چې د فحشا قرباني شوې ښځې د زنا په تور توقیف کړي، په محبس کې یې واچوي او یا د زنا په تور جزا ورکړي؛ بې له دې چې دې ته وګوري چې هغوی په زور زنا او فحشاته اړ شوې دي، نه دا چې په خپله خوښه یې ورته غاړه ایښې ده؛ ښځینه قربانیانې یا له هغو مېړونو نه تښتېدلې دي چې په زور یې فحشاء او زنا ته اړ اېستلې.

چارواکو ځیني وخت قربانیان پدې جرم نیول چې د پیژندنې اسناد یې جعل کړي و .د انساني ټرافیک او د کډوالو د قاچاق په ضد د ۲۰۱۷ کال د قانون ۲۰ ماده وایي چې یو قرباني ته چې د ټرافیک کیدلو په مهال یې جرم کړی وي یا ورسره جعلي اسناد وي، سزا ورنکړل شي. چارواکو ځېنې وخت هغه نارینه او ښځینه قربانیانې زندان ته لېږلې ځکه چې د هغوی لپاره به د سرپناه په ځایونو کې ځای نه و. غېر حکومتي موسسو رپوټ ورکړ چې د انسانانو د قاچاق قرباني شوي ماشومان د اصلاح او روزنې په مراکزو (دارالتادیبونو) کې اچول شوي دي، او ځېنې وخت د څو کلونو لپاره هلته پراته وو. هغه نارینه ماشومان چې د انسانانو د قاچاق له امله د جنسي تیریو قرباني شوي وو، یا په زور بچه بازۍ ته اړ شوي وو، هغوی هم په ځیني مواردو کې، د جرایمو د ارتکاب په تور د ځوانانو د بیارغونې مرکزونو یا دارالتادیبونو ته لېږل شوي دي .حکومت په دې کې هېڅ ډول هلې ځلې ونکړلې چې له قانوني عمر نه کم عسکر چې په حکومتي او یا غېر حکومتي وسله والو ډلو کې شامل دي، له عسکري خدمت نه وباسي، یا خپله ورته د ماشومانو د ساتنې خدمات برابر کړي او یا یې په ټولنه کې د بیا ادغام په برخه کې مرسته وکړي.

حکومت ددې جرایمو ښکارشوي قربانیان دې ته نه هڅول چې په تحقیقاتو کې برخه واخلي؛ په کافي اندازه

ملاتړ، امنيت او د خوندي ساتنی خدمات بې دهغو قربانيانو لپاره برابر نکړل چې په خوندي توګه تحقيقات ترسره کړي او له نور کړاو او ځور سره مخامخ نشي. د افغانستان قانون بهرنيو قربانيانو ته اجازه ورکوي چی په موقتي ډول په افغانستان کې لږ تر لږ تر شپږ مياشتو پورې پاتې شي. داسې رپوټ ندی ليدل شوی چی حکومت په ۲۰۱۶ کي د انساني قاچاق بهرني قربانيان له افغانستان نه شړلو ته اړ کړي وي.

## مخـنـيـوی

حکومت د انسانانو د قاچاق د مخنيوي لپاره هڅې زياتي کړلي. حکومت دې ته ادامه ورکړله چې د انسانانو د قاچاق خلاف فعاليتونه د خپل عالي کميسيون له لارې تنظيم او همغږي کړي چې ياد کميسيون د راپور په موده کې درې ځلې غونډه وکړه او د کاري ډلو نهه غونډې يې وکړې. په ۳۳ ولايتونو کې د انساني قاچاق د ولايتي کميسيونونو خپلې چارې د عالي کميسيون د تګلارو په رڼا کې تنظيمولې. عالي کميسيون د خپلو اجرااتو لپاره له دولت نه پيسې ترلاسه نکړې، نړيوالې ټولنې د دغه کميسيون ټول مالي لګښت برابر کړ. دولت د انساني قاچاق سره په مبارزه کې د ۲۰۱۵- ۲۰۱۷ کلونو ملي تګلارې ته دوام ورکړ. عالي کميسيون د انساني ټرافيک په هکله د خلکو د پوهاوي لپاره د ملي عمل يوه تګلاره جوړه کړه او په ۱۰ ولايتونو کې يې روزنيز پروګرامونه پلې کړل .دولت د راډيو، ټلويزيون او چاپي نشراتو له لارې د انساني ټرافيک په اړه د خلکو پوهاوي ته وده ورکړه او ملايان يې وهڅول چې په خپلو اونيزو خطبو کې پدې اړه خلکو ته معلومات ورکړي .د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون د کورنيوچارو وزرات چارواکو، د پوهنتونونو استادانو، ملايانو او د مدني ټولنو فعالينو ته د انساني قاچاق سره د مبارزې په اړه روزنيز معلومات ورکړل – د دغو پروګرامونو نه ۲۰۹۱ کسانو ګټه واخيسته. د راپور په مهال، دولت د ماشومانو د ساتنې ۱۵ مرکزونه پرانيستل چې په امنيتي ځواکونو کې د هغوې د استخدام کولو مخه ونيسي. د يوه نړيوال سازمان په حواله، دغو مرکزونو د ۲۰۱۶ کال د جنوری نه تر نوامبر پورې د ۳۱۵ هلکانو او ۳ انجونو د استخدام کولو مخه ډب کړه. پر دې سربيره، د کورنيو چارو وزارت راپور ورکړ چې په ۲۰۱۶ کال کې يې د پوليسو په ليکو کې د ۶۳ ماشومانو د شامليدو مخه ونيوله. دولت د بريښنايي تذکرو د ويشلو لپاره خپلې تکنې هڅې جاري وساتلې. د راپور په مهال، دولت د ملګرو ملتونو د سازمان په همکارۍ د راستانه شويو کورنيو او د هيواد دننه د بې ځايه شويو کډوالو د بيا مدغمولو تګلاره جوړه کړه، خو د بې وزلو کسانو په ځانګړې توګه په ۲۰۱۶ کال کې له ايران او پاکستان نه د څه باندې يو ميليون راستانه شويو کسانو سره د مرستو په رسولو کې کم وسی پاتې شو او د خيربښيګڼې د خدماتو په برابرولو کې يې پر نړيوالې ټولنې ډېره لګوله. دولت د تجارتي سکس او اجباري کار لپاره د تقاضاو په کمولو کې اقدام ونکړ. دولت د خپلو ديپلماتيکي کارکوونکو لپاره د انساني قاچاق په اړه روزنه ورنکړه .

**د انساني ټرافيک پيژندپانه**

لکه چې په تيرو پنځو کلونو کې راپور ورکړل شوی دی، افغانستان د هغو نارينه، ښځو او ماشومانو لپاره چې د اجباري کار او جنسي قاچاق ښکار شوي دي، هم منبع، ترانزيت او هم نهايي منزل دی. د انساني

قاچاق کچه په هېواد کې دننه تر هغه قاچاق لوړه ده چې د هېواد له سرحدونو تیریږي. په افغانستان کې نارینه، ښځې او ماشومان، کله وخت د نه ادا شوي پوروونو په بدل کې، بیګار نیول کیږي او د پور په بدل کې، پوروړي پور ورکوونکي ته کار کوي چې بالاخره د کورنۍ نور غړي یې هم په دې بیګارۍ کې ښکېل شي او کله هم د څو نسلونو لپاره ګیر پاتي کیږي. د افغانستان په ختیځ کې ځینې کورنۍ په عمومي توګه د پور په ګرو کې د خښتو په بټیو کې ګیر کار کوي. په افغانستان کې د انساني قاچاق په ښکارشویو انسانانو کې غټه برخه هغه ماشومان دي چې یا غالۍ اوبدي، د خښتو اچولو په فابریکو کې کار کوي، په کورکي خدمتګاري کوي او یا د پیسو په مقابل کې ترینه جنسي استفاده کېږي.

یو شمېر افغاني کورنۍ په لوی لاس خپل ماشومان د جنسي قاچاق لپاره چې بچه بازي هم پکې شامله ده، خرڅوي. یو شمېر بډای او با نفوذه کسان چې د حکومت چارواکي، او امنیتي قواوې هم پکې شاملې دي، هلکان د ساعت تیرۍ او جنسي استفادې لپاره کاروي او بچه بازي پرې کوي. داسې رپوټونه هم شته چې د امنیتي قواو چارواکي، څارنوالان، او قاضیان له بچه بازانو نه رشوت اخلي چې هغوی له قانوني تعقیب او سزا څخه وژغوري. یو شمېر کورنۍ خپل ماشومان د مزدورۍ د پیدا کولو دلالانو ته ورلېږي چې مزدوري او کار ورته پیدا کړي، خو هغو په پای کې په جبري کار کې را ایساریږي. یوشمېر کورنۍ چې کوکنار کري، هغوی د دې لپاره چې د اپین قاچاقبرانو ته خپل مخکیني پورونه ادا کړي، خپل ماشومان پرې خرڅوي .د حکومت او ملګرو ملتونو رپوټونه وایي چې یاغیان هم په زور باندې یوشمېر ماشومان ځان ته راجلبوي او ځانمرګي بریدګر ترې جوړوي. په افغانستان کې د هز اره اقلیت خلک د جبري کار لپاره په زور ګمارل کېدل. له ایران او پاکستان نه راستانه شوي کډوال او دغه راز د هیواد دننه بې ځایه شوي خلک د اجباري کار له ګواښونو سره مخامخ و .

په افغانستان کې نارینه، ښځې او ماشومان زیاتره وخت، یو منځګړي ته روپۍ ورکوي چې کار ورته پیدا کړي، خصوصاً په ایران، پاکستان، هند، اروپا او یا شمالی امریکا کې. په دغو منځګړیو کسانو کې یوشمېر کسان افغانان جبري کارونو، فحشا او جنسي ځان خرڅوني ته اړباسي. افغاني نجونې او ښځې د جنسي قاچاق، او کورني خدمت لپاره په لومړي قدم کې په پاکستان، ایران، او هندوستان کې کارول کېږي. په پاکستان کې د قاچاق او ترافیک اکثره افغان قربانیان، هغه ښځې او نجونې دي چې انساني قاچاق ته د جنسي تجارت، بهره برداری او د زور واده لپاره استعمالیږي. د افغانستان هلکان او ځوانان د جبري کار او پور د مرئیتوب په جال کې نښتي دي. له هغوی نه زیاتره په کرهڼه، او د تعمیراتو په کار کې، په لومړۍ درجه کې په ایران، پاکستان، یونان، ترکیه، او د خلیج په هېوادونو کې کار اخیستل کېږي. هلکان، خصوصاً هغوی چې په یواځې سر سفر کوي، د ترافیک په وړاندې په ځانګړي توګه زیانمنونکي وي.

یوشمیر افغان هلکان، په یونان کې جنسي قاچاق ته ښکار کېږي، ځکه چې ډېر غټ فیسونه بې ددې لپاره ورکړي وي چې دې هېواد ته وروستل شي. راپوروونه و چې د ایران حکومت او سپاه پاسداران انقلاب یوشمېر نارینه کډوال افغانان، چې په کې آن ۱۲ کلن هلکان هم و، له ځان سره د کډوالو په نامه ثبت کړل او دې ته یې اړ ایستل چې په سوریه کې، د سپاه پاسداران انقلاب د غړیو ترقوماندې لاندې د رژیم له

مخالفینو سره جګړه وکړي. په افغانستان کې حکومت او غیږدولتي وسله والو ډلو د تنکیو ځوانانو استخدامولو ته ادامه ورکړله چې په غیږ محاربوي او محاربوي نقش کې ترینه کار واخلي. غیردولتي وسله والو ډلو، په ځانګړي توګه طالبانو او نورو ډلو لکه د اسلامي دولت ډلې (داعش) د خراسان څانګې د ماشومانو په استخدام کې ډیره ونډه لرله. دغو یاغي ډلو ماشومان په زوره استخداموال او بیایې د ځانمرګو بریدکوونکو په توګه کارول. طالبانو د پوځي او دیني زده کړو له لارې د ماشومانو مغزونه پریولل او د سپکو وسلو او تعبیه شوو چاودیدونکو توکو کارول یې ورزده کول. ځیني کورنیو ته پدې خاطر پیسې ورکول کیدې یا یې ملاتړ کیده چې خپل ماشومان یې د طالبانو ښوونځیو ته لیږل. بې وزلي او کلیوال ماشومان په ځانګړې توګه د طالبانو تر واک لاندې سیمو کې دغه ډول ګواښونو سره ډیر لاس او ګریوان و.

افغان سیمه ایز او ملي پولیسو هم د جنګي او غیرجنګي موخو لپاره کوچنیان په خپلو لیکو کې د نوکر یا پیشخدمت، باډي ګارډ یا محافظ او نورو چارو لپاره استخدامول. د افغانستان د ملي پوځ په لیکو کې هم ماشومان استخدام شوي و، البته په ټیټې کچې. داسې راپورونه هم و چې د افغانستان د امنیتي ځواکونو کسان، د ملي اردو او د نورو غیردولتي کسانو په ګډون، د هلکانو او انجونو په جنسي ځورولو کې لاس درلود.

داسې راپورونه هم وه چې د فلپین، پاکستان، ایران، تاجکستان، سریلانکا او چین نه ښځې او انجونې د سکسي ټرافیک لپاره افغانستان ته راوړل شوې وې. د لوړ معاشو او عاید په پلمه، ځیني شرکتونه بهرني کارګران له سریلانکا، نیپال، هند، ایران، پاکستان او تاجکستان نه افغانستان ته راولي، خو له رارسیدلو سره سم یې شاقه او جبري کارونو ته اړ باسي.